نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۴/۰۳/۱۲

# د کابل پوهنتون نوم کرزي د ځان له پاره پټ کړی

د کابل حربي پوهنتون د مارشال قسیم فهیم په نوم ونومول شو، له دي مخکي د کابل تعلیم او تربیي پوهنتون د استاد رباني په نوم سره نومول شوی وو. کرزي صاحب ممکن د کابل تأریخي پوهنتون نوم خپل ځانته ساتلی وي، چي که دی مړ شي د کابل پوهنتون دي د ده په نوم ونومول شي .
د طالبانو او اسلامي حزب وار لا پاتي دی، اوسنی دولت کوشش کوي چي د هغوی تر راتګ پوري د علمي او تأریخي ځایونو نومونه ژر ژر تبدیل کړي، تر څو د ملا داد‌الله، ملا عبیدالله او ملا بورجان ادا ډول د ښاغلي حکمتیار، استاد فرید او نورو له پاره ځایونه پاتي نه شي.

د کمونسټانو د وخت هم ډیر کسان مړه او ځیني یي مرګ ته انتظار دي، هغوی به هم د ببرک کارمل، ډاکټر نجیب الله او نورمحمد تره کي په نومونو پوهنتونونه وغواړي، شاهنواز تني او رشید دوستم له پاره هم سر له اوسه باید حکومت او د هغوی خواخوږي فکر وکړي، چي علمي ځایونه ورڅخه خلاص نه شي، داسي نه چي د دوی له پاره بیا تأریخي ځایونه پاتي نه وي تر څو د دوی په نومونو ونومول شي.

حضرت صبغت الله مجددي هم د مرګ په بستر پروت دی، ارګ ته یي ځای ناستي امین جان آغا په یخ ژمي کي د اسلام آباد څخه کابل ته راغلی دی، پیرسید احمد ګیلاني، استاد سیاف او د کابل حزب غړي هم تر اوسه ژوندي دي، دوی به هم یوه نه یوه ورځ مړه کیږي، د دوی له پاره هم د علمي او تأریخي ځاینو لټه په کار ده، تر څو د دوی تر مرګ وروسته یي په رسمي ډول په نومونو ونومول شي.

د کمونسټانو حکومت، د مجاهدینو د حکومت په لومړۍ دوره او ادا ډول طالبانو د تأریخي او علمي ځایونو احترام وکی هر څه یي په خپلو نومونو او حالت پریښودل.

ښاغلي کرزي د نورو تأریخي ویاړونو لکه لویه جرګه، قومي اربکیان او قومي مشرانو تر سپکاوي وروسته د علمي ځایونو سپکاوي ته هم ملا تړلي ده.

څومره به ښه وای چي د مارشال زامنو او خواخوږو د قسیم فهیم له شتمني څخه د زړه او شکرې د ناروغیو د تداوي مجهز روغتون د هیواد مرکز کابل کي د مارشال په نوم جوړ کړی وای، چي دهغو ناروغانو درملنه به پکي کیدله د کومي ناروغي څخه چي د دوی پلار ومړ

د ډیر شرم خبره خو داده چي د ولسمشر میرمن د ماشوم د زیږیدو له پاره د ډاکټرانو په مشوره هند ته لیږل کیږي، او هلته د ولسمشر لور په هندي روغتون کي پیداکیږي، او د هندي روغتون سره یي د پیدایښت نیټه او ځای ثبت کیږي.
د هیواد نورې میرمني چي بهرنیو هیوادوو ته د تګ له پاره لګښت نه لري، ډیری یي د ماشومانو د زیږون په وخت کي مري، آیا شرم نه دی چي د هیواد لومړۍ میرمن دي په خپل هیواد کي د تداوي له پاره ډاکټر او روغتون ونه لري.

د علمي او تاریخي ځایونو د نومونو بدلون او دغه ډول د ځینو کسانو په نومونو یادول پرته له شکه په راتلونکي کي ستونزي پیداکوي.
افغان حکومت، افغان روڼ آندي او سیاسي ګوندونه باید چي په دغه ډول حساسو او نازکو مسایلو کي له ډیر احتیاط او غور څخه کار واخلي

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ